پوهندوی دوکتور سید حسام مل

# ښکلا څه دی

ښکلا چی معمولاً ښکلی شیانو او یا اجناسو ته لکه ګل ، طبیعت ، موزیک یا، ښځی ته پکار وړل کیږی له ډیرومخکی زمانو څخه لا تر اوسه ډیر په زړه پوری موضوع دی مګر مخکی له دی چی په نوموړی موضوع رڼا واچو ، یوځل بیا په تاکیدی ډول سره څرګندوم چی ښکلا که د شاعران، ادیبان ، دوکتوران اویا د ساده خلکو له خوا تعریف اوتوصیف شوی ، اکثراً د ښځی د ښکلا په اړین شوی دی.

پس په واقیعت کی ښکلا هغه عینی انعکاس دی ، چی دلیدونکی په سترګو کی نغښتی دی ،اویا دلیدونکی په سترګو کی وی ،چی د ښکلا تعریف او توصیف دخپل لړلید اوپوهاوی له نظره په ادبی کلیماتو او جملو افاده او بیانوی.

یا په بل عبارت ، ښکلا په عام ډول سره هغه اړین او صاف او کرکترونه دی ، چی په یو شخص ، په یو محل ( place)، په یو نهاد (object)، اویا په نظریاتو اوایدیا کی موجود وی کوم چی دا نسان په ماغزه ،او په سترګو کی دخوښی ، معنی ، مفهوم ، یا قناعت احساس راژوندی کړی ،چی دیو لړ حساس بوړنونکی تظاهراتو پر بنیاد لکه شکل ، رنګ ، بوی ،شخصیت ، آواز ، یا خیال څخه منشا اخلی . ښکلا دښکلا پیژندنی ( Aesthetic ، ټولنی پیژندنه ( Socioloy)، ټولنیز روان شناسی ، او دکلچر یو برخه تشکیلوی.

ښکلا یو کلتوری خلقت او رازیږونه دی ، همدارنګه ښکلا نن د پانګوالی په ټولنه کی یو ستر تجارتی ښه غوره کړی ، چی پانګوالی دخپل متاع دخرڅلاو دپاره ښکلی پیغلی استخداموی .دبل طرفه ښکلا هغه کیمیاګری دی چی کیمیا ګر دمختلفو موادو له مخلوطولو اوګډولو څخه یو ښکلی شی یا عنصر را زیږوی.

ښکلا په ذهنی لحاظ سره هغه ذهنی هڅی او اند دی چی اکثرآدیو نهاد ( Entity)څخه شخص یو برداشت او تصور پخپل ذهن کی را زیږوی کوم چی نوموړی برداشت دطبیعت سره په موازنه اوهم اهنګی کی قرار ولری .او په شخص کی کشش او دتمایل احساس را پیداکړی . پس ویلی شو چی ښکلا دلیدونکی په سترګو کی دی.

ښکلا ممکن په شخص کی یو ژوندی هستکونکی احساس وی ، یا داچی ښکلا شاید چی یو پټ او خاموش مثبت عکسوی انګیزه دیو هستونکی شی مفهوم او معنی وی.

ښکلا دعینیت له پلوه یعنی هر هغه را جذبونکی او بوږنونکی تظاهردی کوم چې په شخص کی ، یو مفهوم را ژوندی کړی

داخلی ښکلا : دهغه تصور او مفهوم په کار وړل دی کوم چې دیو شی مثبت اړخونه بی له دی چې فزیکی موجودیت ولری بیان شی ، یا داچې دهغه فزیکی نښی اونښانی په شخص باندی خپل اغیزی وغورځوی او شخص هغه ته تمایل پیدا کړی لکه مهربانی ، درناوی مرحمت ، کرم ، سخاوت ، سجایا ، خندا، مسکا ، نخره یا عشوه اودا سی نور . لویانو ویلی دی:

ښکلا د لیدونکی په سترګو کی وی. مثلاً ډیر ځل دا سی لیدل شوی ، چې تا سی یو ښکلی ښځی یا انجلی ته واییی ، چې خدای دی له نظره وساتی ډیر ډیر ښکلی او ښا یسته یی ، هغه سمدلاسه تاسی ته وایی دستاسی سترګی ښایسته دی چې ښا یسته وینې . اوس دپورتنی لنډ څرګندونی څخه لاندی دوه سوالونه زمونږ په ذهن کی را پیدا کیږی:

* ایا دا واقعاً ریښتیا دی ؟ چې ښکلا د لیدونکی په سترګو کی دی؟.

* ایا دښکلا دټاکلو دپاره کوم عینی قبول شوی میعار یا اندازی موجود دی؟

ددی دوه پورتنیو سوالونو ځواب په لاندی ډول دپوهانو او ښکلا پیژاندانو دیولړ علمی څیړنو او تحقیقاتو په پام کی نیولو سره لوستونکی ته وړاندی کوم او هیله لرمچی تر یو حده دهغو تنده مات شی.

ښکلا پیژوندونکی دښکلا دپاره ځنی نښی او نښانی را ویستلی دی چې ښکلا لا پسی مالګین کوی، لکه ، ایا ښکلا حمله کونکی ښه لری ، ایا ښکلا په هوښیاری ، فعال ،روغ اوپه زړه وړونکی شکل دشخص په ذهن کی را پیدا کیږی او یا څنګه؟

ښکلا پیژوندونکی دیو لړ ریسرچونو پر بنیاد دښکلی نارینه اوښکلی ښځینه دغړی دتوصیف دپاره ځنی شاخصونه ټاکلی دی چې په لاندی ډول پر هغه تم کیږو.

اول په نارینه کی:لوړ قد ، په ویښتو پوښلی سر ،راوتلی اوبرجسته وریځی ، هموار ګیډه، دعلوی اوسفلی غړو ښه تناسب ،خوشحال او بشاش څیره ،په قطار سره برابر غاښونه ، دمخ تنا ظر اودا سی نور.له بل پلو هغه نارینه چې دهغوی اونه لنډ اودغړو تنا سب یی نابرابر اویا دنورمال حد څخه ښکته او پورته وی او یا داچې دهغه مخ نا متنا ظر او دهغه وچوله ګنځ وی ، دا سی انګرنه کیږی چې نوموړی شخص شاید دغړو دا عدم تناظر دزیږیدو له وخته ولری ،چې دهغه ا سباب دطبی په لحاظ ډیر زیات دی اودهغه څیړل پراخ حوصیله غواړی او دلته لازم نه ګڼل کیږی چې پری بحث وشی ،اما که چیری نوموړی شخص دزیږیدو په وخت نورمال وی اودخپل عمر په وروستیو وختونو کی پورتنی اوصاف تر لاسه کړی وی ، داسی تصور کیږی چې ممکن نوموړی شخص ځنی روحی او سیکا لوژیکی ستونزی ولری لکه روحی انحطاط ، معدوی پرابلمونه ،

دخوب اود استراحت تشوشات ، سردردی ، دذکاوت او هوښیارتیا کمښت ، نظر وهغو نارینو ته کوم چی دهغوی مخ او صورت متناظر وی.

دوهم په ښځینه کی :دښځی دبدن هغه غړی چی دنارینه پاملرنه او توجه را جلبوی عبارت دی له : له سترگی ، زلفی ، متنا ظر مخ ، لاسونه ، مړوندونه ، متناسب او زړه وړنکی ورنونه ، غټی او ښوی پنډی ، نری ملا ، موزون حوصیله ، را سته اوسم دملا تیر ، راوتلی متنا ظر تیپونه ، نری گوتی ، سپین په منظم قطار سره پروت غاښونه نری وریځی ، صراحی ډول سپین او ستره غاړی ، ښکلی اوموزون کالی او زیورات. که چیری په یو مونث جنس کی پورتنی غړی ناموزون بڼه ولری اغلباً په هغه کی ځنی نا روغی موجود وی اویا داچی دنر دخشونت سره مخامخ وی اویا داچی سیکالوژیکی پرابلمونه ولری او یا داچی پخپل ژوند کی دمینی له پلوه کمی ولری اویا داچی دخپل ودی په دوران کی لازم غذایی مواد نه وی اخیستی .خصوصاً دودی په دوه کلنی او د بلوغیت په دوران کی او یا داچی دجنیتیکی له لحاظه ناروغ جن( Gen )ولری .

په هر صورت دعرف له مخی ښکلا هغه بوړنونکی انگیزه او ذهنی احساس دی چی پر ښکلا باندی دمینو خلکو احسا س دښکلا وړاندی کونکی اغیزه ډیر پیاوړی وی

لکه چی په دی لاندی بیت کی جوته کیږی:

زړه چی مین شی ښایست نه غواړی

خوب یی چی را شی بالښت نه غواړی

پای

www.ayenda.org